هر هغه څه چې زياته اندازه يې نشه راولي، نو لږه اندازه يې هم حرام دی

له جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "هر هغه څه چې زياته اندازه يې نشه راولي، نو لږه اندازه يې هم حرام دی".

[حسن] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هر هغه څښاک او يا خوراک چې کله ډېر وڅښل شي نو عقل له منځه وړي، نو د لږې اندازې خوړل يا څښل يې هم حرام دي، که څه هم عقل له منځه نه وړي (انسان نه نشه کوي).

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66036